# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد بدین بوم وبر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Literary-Cultural | ادبی ــ فرهنگی |
| --- | --- |



محمد اسحاق برکت
ویرجینیا ــ امریکا

۷ دسمبر ــ ۲۰۰۸

## اخـــتر مـو مبارک شه

د خپل زړه له کــــومي مبارکی او تاوده سلامونه د لوی اختر په ویاړ د "افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان" معزز پورتال او د هغه محترمو کارکونکو، لیکوالو او لوستونکو ته وړاندې کوم او د لوی خدای څخه و دوی ته لا ډیر بریالیتوبونه غواړم او دغه لندۍ د "اختر مبارکۍ" په توګه دوی او خپلو ګرانو وطنوالو ته تقدیموم :

## لــــندۍ

اختره راغلې په ما غم دی
یار مي له ما نه مرور له کوره ځینه

******

اختر هرچا ته بختور دی
ځکه د اخترپه ورځ کوي دوی دیدنونه

******

اختر خو راغی یار مي نشته
زه به له چا سره اختر نوی کومه

******

له بنـو لاندې راته ګـوره
دیدن به ستا کړم د اختر پلمه کومه

******

که دیدن غواړې پاس په بام شه
زه به د اختر په نامه ستا دیدن کومه

******

د بیوطنو مهاجرو څه اختردی
د بیوسۍ آواز به چا ته رسوینه

******

خلک به هرڅه هرڅه وایي په اختر کي
جـــانـــانه مـــه د چا منــــــه نه یي منمه

******

یو وار اختر کي مخ ښــکاره کـړه
چې را نه لېرې شي د خلکو پېغورونه

******

د خلکو ډېر ډېـر دی ارمانونه
زمـــا ارمـــان دی  پـــه اختـــر کي دیـــدنونه

******